رحمت آریا ۲۰۱۲/۰۷/۰۴

د بشریت په فزیکي تأریخ کې یوه پلټنه
(۷)

لسمه برخه : پښتانه ، پټهانان یا افغانان

دا جنګیالي او نیمه بربري وګړي هغه وګړي دي چې د لومړي ځل لپاره یې په هندوستان کې د اسلامي ستروا کی بنسټ کیښود، دوی د مغولو تر راتګ پورې یو غښتلی او نه ماتیدونکی ځواک وو چې په هندوستان کې د پټانانو په نامه یادیږي. د پټانانو نوم د پښتنو د نامه یوه اړول شوې بڼه ده. پښتون ملت په همدغه نامه یادیږي. اروپائیان یې د افغانانو Affghans یا اوفغانانو Uffghauns په نامه پیژني ، اروپائیانو دا نوم د فارسي ادب له منځه را اخیستی دی. ددوی ټاټوبی او اراستوګنی هیواد د پرشیا په شمال ختیزې برخې کې یو لوی غرنی هیواد دی؛ دا هیواد له لوړو غرونو او پراخو پلنو ځمکو جوړ یو هیواد دی چې په خپل غیږ کې د لوړ هندوکش دنګې څوکې او په لمن کې یې پرتې ریوندې پراخې پلنې ځمکې، د پاروپامیزان د غرونو لړۍ رانغاړي او د سترې همالیې تر پیلینزو څنډو پورې غځیږي. افغانستان په ختیځ خوا او په خپلې شمالي انتها کې د اندس د سیند کرښه لري او تر هغه ځایه بیرته رارسیږي چې همدا سیند له غرنیو سیمو په تیریدا خپلې شا ته د بلوڅانو دښتې پریږدي او د دې دښتې په ډډو کې خپلې بهیدا ته دوام ورکوي. لوړې سیمې یې د سلیمان له غرنۍ لړۍ سره تړلې او د سویل پر لور پر مخ درومي او هغه سیمې په افغانانو پورې اړه لري چې د بولان د دَرې د ژور تل ترهغه ځایه پورې رسیږي چې بلوڅستان له افغانستانه را جلا کوي. د افغانستان لویدیزه کرښه د خراسان تر لویې دښتې پورې رسیږي او د فارس د کلات د پلتیو Plateau تر هغه ټکي پورې د افغانستان یوه برخه جوړوي چې دښته له لوړې سیمې سره ځان نیږدې کوي. د افغانانو د خاورې ډیرې برخه د نورو ګاونډیو هیوادونو په پرتلې له لوړو غرنیو سیمو څخه جوړه شوې ده[1].

په اروپا کې د افغانانو د سرچینې په اړوند داسې خړې پړې او تیارې کیسې او نغوټې خپرې شوې چې له اره شونې نه ښکاري. سرویلیم جونز او یو شمیر نور پیرنګ لیکوالان [2] پر دغو خیالي کیسو ډډه لګوي چې ګڼې دوی د اسرائیلو د لسو قبیلو له منځه یوه قبیله ده چې سناخریب [3] په یرغمل ونیولې او داسې انګیرې چې ګڼې ددوی یوه

---

[1] Outline of the physical geography of Affghanistan, in the introduction to the " History of Cabul," by the Hon. Mountstuart Elphinstone, who first made known this remarkable country to Europe, and whose work will hereafter hold a place in the same rank with Caesar's account of the Gauls, or the description of Germany by Tacitus.

[2] On the descent of the Affghans from the Jews, by Mr. Vansittart, Asiat. Researches, vol. 2.

[3] د دې خبرې د ډډو د لا روښانولو لپاره اړینه بولم چې د سناخریب او یهودو په اړوند د ویکیپیدیا له مخې یو شمیر مالومات دلته راوړبارم : د سناخریب تلفظ سه – نیکریب Sə′nækərib دی چې په اکادي ژبې کې سین احریبا Sîn-ahhī-erība لیکل شوی دی. دلته Sîn ددې لپاره ویل چې " زما د ورکو شویو ورونو" اصطلاح وربانديې روښانه شي. نوموړی د دویم سرګون Sargon II زوی دی چې له ۷۰۵ م. ز کال تر ۶۸۱ م. ز پورې د آشوریا تاج یې پر سر کیښود. دویم سرګون له ۷۲۲ م . ز تر ۷۰۵ م. ز کال پورې د آشوریا پاچا وو. سناخریب د خپل پلار د واکمنۍ برعکس دومره په پوځي چارو کې بوخت نه وو. هغه خپله واکمني د ودانیو په بیا رغاونې او پراخونې تیره کړه. سناخریب د پلار له مړینې وروسته د خپلې واکمنې د ټینګښت په لارې کې له ډیرو ستونزو سره مخامخ شو. مګر نوموړی په دې بریالی شو چې خپل واک ټینګ کړي. د سناخریب د پلار د واکمنۍ نوې جوړه شوې پلازمینه دورشکین نومیدله، کله چې سناخریب پاچا شو نو د خپلې واکمنۍ پلازمینه یې د آشوریا لرغونې پلازمینې نینوا ته ولیږدوله. دا د پاملرنې وړ دی چې سناخریب نه یوازې د پلار له پلازمینې دباندې ووت بلکه په هیڅ ډبر لیکه کې یې د پلار نوم نه دی یاد کړی.

سناخریب د خپلې واکمنۍ پر مهال له بابل سره په ستونزو کې ښکیل شو. پلار یې په ۷۰۳ م. ز کال کې د دویم مردوک اپالا ایدینا پر وړاندې پوځي کمپاین وکړ؛ دا ځکه چې نوموړي د کلدانیانو، ارمنیانو او عیلامیانو په مرستې د بابل تاج تر لاسه کړی

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

برخه هغه مهال په ختیځ کې پاتې شوه چې یهودان، فلسطین ته لاړل او له نورو یهودانو سره یو ځای شول. دغسې روایات په خپله د افغانانو په منځ کې هم خپاره دي، او یو شمیر یې همدا کیسې منلې دي، دا کیسې کټ مټ هغو افسانو ته ورته دي چې د [یهودو او عیسویانو] په زاړه سپیڅلي کتاب Old Testament کې موندل کیږي دا کیسې نه یوازې د څو عیسایي ټولنو په منځ کې لیدل کیږي او دا کیسې یې منلې چې دوی هم پخوا بني اسرائیل ول بلکه اسلام ته د اووښتو قومونو په منځ کې هم په لوی لاس جوړې شوې افسانوي کیسې دي.[4] دا کیسې کټ مټ هماغه کیسې دي چې د ښاغلي الفنستن په وینا د رومیانو او بریتانویانو په منځ کې خپرې دي چې ځانونه د یونان د تروی Troy له نسله بولي او یا د آیرلندیانو په شان چې ځانونه د میلیسیانو Milesians یا برهمنانو له پښته بولي. یو شمیر وروستي لیکوالان لا وایي چې افغانان له البانیایي پښته دي چې چنګیز خان او یا د هغه کوم ځای نیوونکي هغوی په قفقاز کې له خپل پلرنې ټاټوبي وشړل او د انګیرنې له مخې اندس ته نیږدې په غرنیو سیمو کې دیره شول. همدا انګیرنه یوه سیلاني رینیګز د سترګو په رپ کې ومنله.[5] افغانان لیکلی تأریخ نه لري او داسې ښکاري چې د همدغو ښکلیو کیسې په انګیرنو او ګومانونو ډډه لګوي؛ مخکې له دې چې ددغو کیسو د شوني ننوتنځ ته ځان نیږدې کړو لومړی باید دا فکر وکړو چې څنګه دومره بې شمیرو وګړو د تأریخ له هاغه پیله وکولای شول په خپل اوسني استوګنځي کې دیره شي.

ددغو لید لورو پر وړاندې ام ویلکین M. Wilkin دریدلی او خپل لید لوری یې په خپلې یوې علمي مقالې کې چې د افغانانو تأریخ نومیږي، وړاندې کړی دی[6]. ویلکین د افغانانو [پښتنو - ژ] په تړاو ډیر لرغوني یادښت لیکونه راټول کړي دي؛ دغه یادښت لیکونه څرګندوي چې افغان نژاد له ډیرو لیرو لرغونو وختونو را په دې خوا په همدې سیمې کې چې اوس استوګنه لري، دیره ول. د درانیانو لرغونترینه ټاټوبی د روایاتو او لاسوندونو پر بنسټ په پاروپامیزس کې غور یا غورستان ویل شوی چې تأریخ فرشته هم دغه روایات او لاسوندونه تصدیقوي. له همدغه ځایه شوني ښکاري چې دوی دې د اندس د کرښو لور ته خپل لومړنی خوځښت کړی وي چې وروسته له مقدوني لښکر سره مخامخ کیږي او مقدونیانو په همدغه ټکي کې پیژندلي دي. دا خبره یوازې یوه انګیرنه ده؛ خو د آریان Arrian په خبرې کې به څوک لږ شک وکړي چې اسه کیني Assecani په حقیقت کې افغانان ول[7]. آریان وایي چې د

وو. موږ کولای شو په همدې نیټې له حزقائیل جودا سره د بابل د سفیرانو له لیدنې یادونه وکړو. د ټلوالې ځواکونو غوښتل د سناخریب پر وړاندې د رامنځته شوې اله ګولې له منځه ګټه واخلي. سناخریب خپل لښکر په دوه وو برخو وویشه د لښکر یوه برخه یې په کیش کې ځای پر ځای کړه او بله برخه یې د کوټا د ښار د نیولو لپاره په مخ لاړه. په دې توګې اله ګوله پای ته ورسیدله او مردوک وتښتیده. سناخریب بابل بیرته ونیو، ښار یې ونړاوه مګر ښاریانو ته یې تاوان ونه رساوه. په ۷۰۰ م. ز کال کې بیا اله ګوله راوپاریدله او سناخریب خپل لښکر ولیږه، هیښنده ده چې مردوک بیا دلته ولیدل شو، خو د اله ګولې له ټکولو وروسته نوموړی وتښتید او د عیلامیانو په منځ کې وروسته په خپل مرګ مړ شو. ....

په ۷۰۱ م. ز کال کې د سلطان حزقائیل تر مشرۍ لاندې په جودیې کې د مصر او بابل په مرستې اله ګوله راوپاریدله. ددې اله ګولې پر وړاندې سناخریب د جودیې یو شمیر ښارګوټې ونړول، بیا یې یورشلیم ته واړوله او یورشلیم یې کلابند کړ مګر ډیر ژر بیرته نینوا ته راستون شو، یورشلیم یې په دې هیلې تاواني نه کړ چې ګومان یې کاوه یورشلیم به د یوې کودتا له لارې ونیسي. همدا پیښه سناخریب په یوې ډبر لیکې کې ریکارډ کړې او وریسې هردوت ، جوزوفس او د یهودو او عیسایانو سپیڅلي یا د مقدس کتاب بایبل څو کتابونو ریکارډ کړې ده. بایبل وایي : " سناخریب ځکه یورشلیم پریښود چې له یورشلیمه یوه پرښته والوتله او یو سلو پینځه اتیا زره آشوریان یې ووژل. " د سناخریب په اړوند شننې وایي چې نوموړي مصر ونیو او جنایتکاره ښاریان یې ووژل. له دې وروسته سناخریب مخه جودیې ته اړوي او له حزقائیله غواړي چې ځان ور وسپاري مګر نوموړی ځان نه سپاري او سناخریب د حزقائیل ۶۷ تنه ښارونه نړوي خو له دې سره سره یورشلیم نه شي نیولای.

لوستونکي کولای شي په دې اړوند نور ټکي ولولي او دلته د سناخریب په اړوند د مالوماتو په لنډیز بسنه کوم. [ژ]

[4] See the Nachträge zum ereten Theil des Mithridates, s. 252. Klaproth, Ueber die Sprache und der Ursprung der Aghuan oder Afghanen. Archiv, für Asiatischen Literatur, Geschichte und Sprachkunde, St. Petersb. 1810, und besonders abgedruckt

[5] Reineggs, Reisen im Kaukasus.

[6] Fr. Wilkin," Ueber die Verfassung, den Urprung und die Geschichte der Afghanen " Abhanlungen der Kön. 8oc. der Wissonsch, iu Berlin, 1818-1819. Ritter, Erdk. vi. s. 196.

[7] د آریان د شننې پر بنسټ د اسه کیني Assecani مرکزي ښار مسه سه که Massaca وو چې ددوی لوی ترینه ښار وو بل لوی ښار یې پیوکلا Peucela نومیده چې له اندسه دومره لیرې نه وو. وګورئ :

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اندس د لویدیزې خوا او د کوفنز Cophenes د سیند تر منځ سیمې کې دیره دي، او د کوفن سیند باید د کابل سیند وي. پلیني Pliny دوی د اسپه ګوني Aspagonæ وګړو په نامه یادوي او د استوګنې سیمه یې په دې ډول شرحه کوي چې له هر ډول شک پرته د اوسني افغانستان جغرافیوي جوړښت رانغاړي. پلیني وایي په دغو سیمو کې انګور، د شمشاد [8] او غار[9] ونې پریمانه دي او هغه میوې په کې پریمانه تولیدیږي چې د یونان په اقلیم کې وَده کوي[10]. دا هم ویل شوي چې د افغانانو یا اسه کینیانو Assekani نوم پرشیا ته د هغو باج ورکوونکو هیوادونو په نوملړ کې راغلی چې نومونه یې د پرسه پولیس د میخي لیکدود د ډبر لیکو پر مخ ښکاري. لسن وایي د افغانانو نوم دلته د Usk^{a}_ngha یا Usç^{a}_nga [اسه سنګه یا اسکه نګه] په بڼې راغلی دی[11].

له نورو ملتونو سره د افغانانو اړیکه یوازې له یوې لارې پلټل کیدای شي او دا یوازینۍ لاره د وییې پوهنې یا د لیکسیکولوژۍ Lexicology لاره ده. د ټولو قومونو په منځ کې یوه ژبه ویل کیږي چې ژبه پښتو نومیږي. د پښتو د ژبې د وییو یا لغاتو ټولګه جلالتمآب مونټ ستیوارټ الفنستن، باومیستر Baumeister او کلپورث Klaproth را ټول کړي دي، موږ ددې پلټنې په روڼا کې یوازې پر هغو وییکو ډډه لګو چې زموږ د پلټنې له روح سره اړخ لګوي چې له فارسي او قفقازي ژبو سره مو پرتله کړي دي. کلپورث په خپلې لیکنې کې چې ایشیا پولیګلـَـټا Asia Polyglotta نومیږي د دوه وو سوو افغان [پښتو] وییکو یو لښتنکلیک وړاندې کوي چې له هغو سره یې فارسي او هندي وییکي پرتله کړي دي؛ په دې پرتلې کې کلپورث ددغو وییکو یو شمیر ژبښوونیزې یا ګرامري بیلګې وړاندې کوي. ښاغلي الفنستن پښتو وییکي له ارمني، ګورجي، هندي او فارسي وییکو سره پرتله کړي او دې پایلې ته رسیږي چې د افغانانو د ژبې د لغاتو یو شمیر برخه له نا څرګندې ریښې راځي چې په پښتو ژبې کې هیښنده ځانګړتیاوې له ځانه ښکاره کوي. ډیري لغات د ژوند د لومړنیو اړتیاوو د اړیکو لپاره دي. د راټولو شویو وییکو د ډلې یوه برخه زند یا پهلوي ده چې اعداد او د کورنۍ د غړو اړوند وییکي هم په کې رانغاړل کیږي. د پښتو اکثریت لغات په همدېریښوي ډلې کې راځي. دا د ښاغلي الفنستن لومړی لید لوری وو. مګر وروسته یې یو شمیر نور وییکي وموندل، د الفنستن موندنه عجیبه ښکاریدله، هغه وایي همداسې یو شمیر وییکي په کوردي ژبې کې هم موندل کیږي. هغه وییکي چې په کوردي او پښتو ژبې کې ګډه سرچینه لري، او کلپورث په خپل لښتنلیک کې ښودلي د پاملرنې وړ دي. نوموړی دې پایلې ته رسیږي چې پښتو یوه ایندو – اروپایي Indo-European ژبه ده؛ او یا په بل ځای کې وایي : " دا د هغې کورنۍ ژبه ده چې غړي یې د ګنګا له ټاپو نیولې د بریتانیې تر ټاپو پورې خواره واره پراته دي". خو زما په ددې پایلنیوې پر ځای خوندیترینه او ظاهراً ډاډمنه لاره به دا وي چې ووایو پښتو د ایند – اروپایي ژبو د کورنۍ په یوې هیښندې څانګې پورې اړه لري چې میدو – فارسي Medo-Persian ژبنۍ څانګه نومول شوې ده[12]. که دا څانګه په پام کې ونیسو نو پښتو د خپلو ګرامري جوړښتونو له اړخه په پریکنده ډول له همدې څانګې سره تړل

Arrian. Indic, p. 314, Ed. Gronov. item, de Expcd. Alexand., p. '221.

[لیکوال]

[8] Box Tree : لاتین نوم یې Buxus دی او په انګریزي کې په لنډون Box شوی دی. دا ونې ۷۰ بڼې لري چې ټولو بڼو ته یې په یوه ځل Boxwood tree وایي. دا ونې د خپل ژوند تر پایه زرغونې وي او له لرګیو څخه یې په صنعت کې ګټه اخیستل کیږي. دا ونې په هغو ځمکو کې چې اوبه یې ډیرې وي په بله وینا په نمناک اقلیم کې نه زرغونیږي بلکه د طبیعي باران له لارې ځان خړوبوي. ونه یې له ۲ تر ۱۲ مترو پورې لوړیږي او وده یې سوکه ده. پاڼې یې تیرې او نښتر ته ورته دي او د څرمن په شان کلکې او نه ماتیدونکې دي. د پاڼو اوږدوالی یې له یو نیم تر پینځو سانتمیترو پورې رسیږي خو کله کله تر ۱۱ سانتیمیترو پورې هم اوږدیږي. په پښتو او فارسي کې د شمشاد د ونې په نامه یادیږي. [ژ]

[9] Laurel : په انګریزي کې د bay laurel، sweet bay، bay tree، true laurel, Grecian laurel, laurel tree په نومونو یاده شوې او په عربي کې یې غار او په فارسي کې یې برګ بو بولي. پاڼې یې ډیر ښه بوی لري او ونه یې تل زرغونه وي. پاڼې یې ځلا لري او په خوړو او پخلي کې ورڅخه کار اخلي. ونه یې له لسو تر اتلسو مترو پورې لوړیږي. که له لیرې ورته وګورئ دا ونه د سر چپه جام بڼه لري. پاڼې یې توربخونې زرغونې دي میوه یې ژیړ چکې زرغون رنګ لري. دا ونه ډیر کلک مقاومت لري خو د سړې هوا پر وړاندې یو څه حساسیت لري. په خوراک او پخلي کې وچې پاڼې یې کارَول کیږي. د معدې او اشتها لپاره ګټه لري. [ژ]

[10] PLIN. H. Nat. Lib. 6, s. 21 : اسپه ګوني Aspagonæ د ریټر Ritter په خبره په ډیرې آسانۍ په افغان Affghan بدلیدلای شي ځکه ډیري وختونه په ساییزو یا ملفوظو غړونو کې، بیواکه یا صامت غړونه یو په بل باندې د اوښتنګ وړ دي. [لیکوال]

[11] See Lassen's Alt-Persische Keil-Inschriften, s. 94.—Ritter's Erdkuude, v. s. 206.

[12] Brdkaude von Asien, Band. 6, s. 205-206.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کیږي. دا ځانګه له ژبجوړښتیز اړخه په بشپړ ډول فارسي ده؛ مګر په بلې خوا کې له اتنکولوژیکي اړخه دلته د یوه بل هېښنده مګر پریکنده لاسوند په توګه ، د پاملرنې ټکی دا دی چې د معاصرې فارسۍ په پرتلې د پښتو د وییکو ژوره او پریکنده بنسټیزه جړړه ، نیغ په نیغه په زند کې پرته ده. د بیلګې په توګه پښتو نومونه او افعال په خپلو تصریفونو کې وروستي غږیز توري یا واولونه ساتي برعکس فارسۍ دغه جوړښت اوس له لاسه ورکړی دی. د فارسۍ د [است *est*] او [نیست *non est*] لپاره موږ په پښتو کې [شته/سته *shta*] او [نه شته/ نه سته *nishta*] لرو او په زند کې [است ِ *aste*] او [نشتِ *nashte*] لرو، په فارسۍ کې [است *est*] او [نیست *nist*] لرو خو په پښتو کې د دریمګړي ضمیر لپاره [دی *di*] او په زند کې [تی *te*] لرو حال دا چې په فارسۍ کې یوازې یو ساده [د *d*] ورزیاتیږي.

ام. ویلکین چې مخکې مو ورڅخه یادونه وکړه د معاصرو افغانانو [پښتنو – ژ] دودونه او ټول مدني او سیاسي بنسټونه له یو بل سره پرتله کړي او له دې لارې یې لومړی د هغوی له پیژندني وروسته په زباد رسولې چې ټولې یادې شوې ځانګړتیاوې په برجست ډول له هغو ځانګړتیاوو او شرحو سره بشپړ ورته والی لري چې هرودت او ګزنفون د الکساندر د راتګ له پړاو مخکې د لرغونو مادانو او فارسیانو په تړاو ریکارد کړي دي. داسې ښکاري چې په معاصرو افغانانو کې دې یوې افغان ډلې د پرشیا د داریوش د پیر ټول مدني جوړښت په ځیر او دقت کاپي کړی وي، دا ډله هغه واکمنه پښتنه ډله ده چې دراني نومیږي، درانیانو داسې سیاسي مدني جوړښت رامنځته کړی چې د فارس د پاسرګاد سیاسي واکمنۍ ته ورته والی لري ؛ هلته هم یوې واکمنې کورنۍ چې اخامني / هخامنشي Achæmenedæ کورنۍ وه د فارس د قومونو په منځ کې واکمنه پاړکه بلل کیدله، په افغانانو کې درانیان د فارس د هخامنشیانو په څیر یوه واکمنه کورنۍ ده. د ویلکین دا پرتله چې پایلنیوی یې ډیر روښانه او پریکنده ښکاري دا ټکی تصدیقوي چې افغانان د لرغوني آریایي نژاد ډیره لرغوني او کره ځانګه ده.

د افغانستان اقلیم وچ دی، ښاغلی الفنستن وایي چې د افغانستان د اقلیم د منځنۍ کچې د تودوخې او سړښت درجه له انګلستانه جګه ده او لوړه درجه یې هم ډیره ده. سر الکساندر برنس وایي چې افغانستان هم د انګلستان او اروپا په شان میوه لکه شفتالو، آلوګان، مندتي [زرد آلو]، ناک، ګیلاس، توت، انګور، انار، تولیدوي؛ افغان ښونه هم زموږ د ښونو په شان د سندرغاړو مرغیو لکه د بلبلانو، شاروګانو، چوړو ګانو[13] او د قمري ګانو په شور او ږوږ ډک دي. د کابل ناک او مني زښتې نامتو او خوندورې دي. کابل په خپله د سمندر له مخې شپږ سوه فیټه لوړ دی. د افغانستان په ختیځو برخو کې دښتې د غرونو په لمنو کې پرتې دي، خو برعکس د هیواد لویدیزې برخې پلنې او هوارې دي او په ډیریو برخو کې په غملړلي ډول شاړې او سړې دي.

په داسې هیواد کې موږ باید دا هیله هم ولرو چې دلته داسې وګړي ومومو چې د هندوستان د سویل له وګړو څخه بشپړ توپیر لري. موږ خبر لرو چې تکړه، کم غوښې، مزي، پیاوړي او غښتلي عضلات او لوړې پوزې لري ، د باړخوګانو هډوکې یې ورجست او اوږده مخونه لري. د ډیریو افغانانو ویښتان تور دی، کله ناکله نصواري رنګ هم موندل کیږي مګر د سره رنګ ویښتان په ندرت موندل کیږي[14]. په افغانانو کې به موږ یو شمیر داسې تېرونه هم ومومو چې په نومیرلي ډول سره ویښتان لري. ښاغلی فرزر داسې افغان یا پټان سرتیري ولیدل چې سره ویښتان او شنې سترګې یې درلودلې[15]. ښاغلی الفنستن وایي چې ختیځ افغانان په ټولیز ډول تیارې څیرې لري چې له دې اړخه " هندوستانیانو Hindoostanees" ته نیږدې کیږي، حال دا چې لویدیز افغانان روښانه څیرې لري او ظاهراً تکړه ښه لري؛ الفنستن وایي " مګر دا باید په پام کې ولرو چې که د ختیځو افغانانو په منځ کې افغانان د هندیانو په شان تیارې څیرې لري یو شمیر نور یې د اروپایانو په شان روښانه څیرې هم لري، همدې ته ورته ځانګړتیا د افغانانو په نورو ګاونډیو سیمو کې لیدل کیږي؛ لنډه دا چې په ختیځ کې ډیري افغانان تیارې او په لویدیز کې افغانان روښانه څیرې لري." الفنستن وایي د افغانانو د څیرو په رنګ کې دا توپیر د اقلیمي شرایطو له کبله دی. الفنستن په دیر کې استوګن افغانان شرحه کوي او وایي " دلته ډیر ماشومان دي؛ ډیري یې زښت ښکلي او روښانه مخونه لري. نجونې ګوربت وزمه " عقابي" پوزې لري، یهودو ته ورته مخونه لري. نارینه په ټولیز ډول تیاره پوټکی لري مګر

---

[13] Thrushes : یو ډول سندرغاړې مرغۍ ده چې ډیرې یې توري دي، تر غاړې لاندې ښکې یې څو رنګه لري لکه سپین، شین او د سرو زرو ژیړ بخونی رنګ چې په پښتو کې یې چوړو بولي. [ژ]

[14] Elplunstone's Account of Kabul.

[15] Fraser's Travels in the Himmalaya, cited above.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یو شمیر یې روښانه رنګونه لري. یو ځوان مې ولید چې کټ مټ د آیرلیندي لـــوګر په شان یې رنګ، څیره او قد درلود." ښایي الفنستن غوښتل ووایي چې دغه ځوان سور مخی وو.

لاندنۍ شرحې په ټولیز ډول د افغان ملت Affghan nation په اړوند دي. افغانان په ډیرو قومونو او تبرونو ویشل شوي دي، سره له دې چې ټول افغانان په یوې ژبې خبرې کوي مګر له ګړدودیز اړخه له یو بله توپیر لري. ښاغلي الفنستن د هغوی اراستوګنې سیمې او ځانګړتیاوې شرحه کړي دي. لاندې د ښاغلي الفنستن د شرحې لنډیز وړاندې کوم.

۱ – شمال لویدیز افغانان یا بَر دُرانیان

د افغانستان په شمال ختیځ کې د هندوکش د غرنۍ لړۍ ، اندس، د مالګین غره د لړۍ[16] او د سلیمان د غره د لړۍ تر منځ پراته افغانان ټول په یو وار د بَر درانیانو په نوم یادیږي. په بر درانیو کې د یوسفزي، اتمانخیل، تورکلاني، خیبري، د پیښاور په دښتو کې دیره قومونه لکه بندهش Bandush [بنګش – ژ] او ختک راځي.

بَر دُرانیان له هندوستان سره د غزني او کابل د راکړې ورکړې له کبله هندیانو ته د کشش په لرلو له نورو افغانانو توپیر لري. بر درانیان د سلیمان او د هندوکش د غرونو د دَرو ولکه په لاس کې لري. د غرونو د لړۍ دنګې څوکې د کافرانو یا سیاه پوهانو په لاس کې دي. د هیواد اقلیم له یوه ټکي تر بل ټکي پورې توپیر لري : یوه برخه یې د آلپاین د غرونو په شان سړه هوا لري او د پیښاور د دښتو هوا زښته توده ده.

د درانیو یوه بنسټیزه څانګه یوسفزي دي، دا یوه کروندګره قومي ډله ده، د درو پیړیو مخکې راپورونه وایي چې دوی په خپل اوسني ټاټوبي کې ګرځند ژوند و ژواک درلود. د هغوی د استوګنې بنسټیز ټاټوبي پرشیا ته نیږدې د ستري مالګینې دښتې great Salt Desert په ګاونډ کې وو. ددوی د استوګنې اوسنی ټاټوبی د ټول انګلستان د خاورې په برابرۍ دی.

یوسفزي د افغانانو بشپړ پرمختللی انځور نندارې ته وړاندې کوي." یوسفزي د هغه افغان قوم په منځ کې ژوند کوي چې د نورو افغان قومونو په منځ کې برلاسی او سوبمن قوم دی، کټ مټ د سپارتانو Spartans په شان چې د هِلوتانو[17] Helots په منځ کې یې ژوند کاوه او له بشپړې خپلواکۍ څخه برخمن ول، هر یوسفزی پر خپل شخصي دریځ، پرتم او اهمیت ویاړي. " د هغوی ویاړ د هغوی د میرمنو په ګوښوالي او انزوا کې، د هغوی د چلند په دروندوالي، د خبرو کولو په څرنګوالي او پر قومیت باندې ویاړ کې خړوبیږي او درانیان دې ته نه پریږدي چې ځان ورسره برابر وبولي. د هغوی دغه خپلواک پاله دریځ او متکرري شخړې ددې لامل شوي چې نور ورته د شک او کرکې په سترګو وګوري."

---

[16] Salt range : په معاصرې اردو کې یې کوه نمک لیکلی دی. دا سیمه پخوا د افغانستان د خاورې یوه برخه وه خو د پیرنګ له ویشه وروسته اوس د پاکستان په خاوره کې راځي. دا لړۍ د جهیلم له لمنې را پیل او مخ په اندس راځي. چې په لمن کې یې مایو Mayo، کهیوړه یا خیوره Khewra ، ورکه/ ورچه Warcha او کالا باغ راځي. خیوره اوس د پنډ دادن خان د تحصیل په نامه یادیږي او یا د هغه یوه برخه ده. خیوره د خوشاب د ولسوالۍ یوه برخه ده دا پخوا یوه شهزاد میشته سیمه وه او د نواب پهولیل کورنۍ یې واکمنه وه. کالاباغ د اندس په لویدیزې غاړې کې پروت دی. [ژ]

[17] Helots : هلوتان غیر خپلواک وګړي ول چې د سپارتانو په سیمې کې په لوکینیې او مقدونیتې کې د ډیریو وګړو شمیر یې جوړاوه. کتزیاس وایي چې دوی مریبان ول او پلوکس وایي چې د خپلواک او مریې تر منځ یو منځګړی دریځ یې درلود. دوی په کروندې بوخت بول، ژوند و ژواک یې په کرهڼې پورې تړلی وو او د سپارتانو له لوریې اقتصادي ملاتړ کیده خو د سپارتانو په دیني لمانځنو کې سپک ، رټل او ان بلهاري کیدل. په هر مني کې چې درمندونه ټولیدل سپارتانو به هغوی په ډیرې آسانۍ او له ویرې پرته وژل. د سپارتانو شمیره د هلوتانو په پرتلې ډیره لږ وه. ثیادتس وایي چې که تاسو د سپارتانو ټولنیزو بنسټونو ته وګورئ نو وینئ چې د هغوی ټول بنسټونه د هلوتانو پر وړاندې دفاعي بنسټونه ول. ارسطو غواړي هلوتان له داسې دښمن سره پرتله کړي چې تل خپل میرځمن ته په مورچل کې ناست وي. په دغسې یوه ویرجن چاپیریال کې تل د غچ اورونه بل وي. پلوتارک هم مني چې سپارتانو د هلوتانو پر وړاندې له زښت زیږ او تراخه چلند څخه کار اخیستی دی. پلوتارک وایي سپارتانو به خپل لاس لاندې هلوتانو وهل او بیا به یې خالص شراب وربانديې وځښل، ډیرې وختونه به د هغوی کولمې وشنیدلې، بیا به یې د ی ته اړل کړل چې د خپلې میرمنې او ماشومانو تر مخ وناڅي او ماشومان وګوري چې پلار څومره بد ښکاري، هغه به یې دې ته اړ کړ چې په ځان د ملنډو وهلو سندرې ووایي. ما ژباړونکي د یوسفزیو په اړوند په خپلې بلې ژباړې کې چې لرغوني آریانا نومیږي بشپړ مالومات د کتاب په الحاقیو کې لیکلي دي او لیوال لوستونکي کولای شي هلته یې ولولي.[ژ]

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یوسفزي په تولیز ډول هډور، زړور او غښتلي خلک دي، مګر د څیرو له اړخه په خپل منځ کې توپیر لري. الفنستن وایي :" هغه یوسفزی چې په خپلې څیرې کې د قوم ټولې ځانګړتیاوې لري نو د هغه اغیزه به هغه مهال پر چا پریوزي کله چې د هغه په ښکلې څیرې کې د هغه خړ رنګې سترګې، سره ږیره په مکیز روانه پوځي بګی ، د هغه ښاځمن « مغرور» او کبرجن ناسته او چلند وګورئ.[18]"

خیبریان یو بل افغان قوم دی چې د پیښاور د دښتې په سویل – لویدیز خوا کې دیره دي. ددوی استوګنځی اندس ته نیږدې د طول البلد تر ۳۴ درجو پورې غځیږي. پیښاور د بیلابیلو قومونو کور او د قومونو ډول ډول والی په کې له ورایه څرګند دی. هوا یې زښته سړه او زښته توده ده." په ګوران Guran کې هوا سړه ده مګر تر هغه کښته دَرو کې د غرونو تر منځ د هوا د دباو کچه راټیټږي او بندښت مومي، له دې کبله د دَرو کښتنۍ برخه په دوبي کې د نه زغم تر کچې توده ده"

خیبریان چې د بر درانیو په قومونو کې شمیرل کیږي هَنډور، غښتلي او عضلاتي خلک دي، نري مخونه، لوړې پوزې لري او د اننګو هډوکي یې ورجست او د څیرو رنګ یې تیره دی. دوی د نورو افغانانو په پرتله په څیره کې زیږې او لواړې څیرې لري.

د بر درانیو د سویلې او ختیځې خوا وو په ورځیرمو سیمو کې چې یوه برخه یې په دامون Damaun کې راځي ډیرې وړې قومي ډلې ډیره دي. ښاغلي الفنستن دغه ډلې را شمیرلي دي.

۲ – د دامان سویل – ختیځ قومونه :

دامان د مالګین او د سلیمان د غرونو د لړیو تر منځ پروت دی. دامان په درو برخو ویشل کیږي : ماله کنډ یا د اندس دښته، د مروَتانو سیمه او لوی دامان.

په ماله کنډ [19] کې بلوڅان او جټان ژوند کوي چې افغانان [پښتانه – ژ] نه دي. دوی د تیاره رنګ څیرې لري او څه ناڅه ډنګر وشمه دي.

مروَتیان[20] کروندګر دي. هغوی په شګلنو او له کاڼو ډکو ډبرینو دښتو کې چې د غونډیو لړیو سره ویشلي، ژوند کوي. هغو دنګې ونې لري. د هغوی د استوګنې ټاټوبې د سلیمان غرونو ته د نیږدو غونډیو له لمنې پیل بیا د اندس د ګاونډ تر دښتې پورې رسیږي.

لوی دامان د مروتو په سویل خوا کې د سلیمان د غرونو د لړۍ په لمنې کې پروت دی. دلته بیلابیل پښتانه قومونه دیره دي چې ټول یې په یوه وار لوهاني بلل کیږي.

---

[18] Elphinstone's Kabul, page 348.

[19] ګومان کوم لیکوال دلته تیر وتنه کړې ده. په ماله کنډ کې د یوسفزیو قوم له پیړیو پیړیو راهیسې دیره دي. تأریخي لاسوندونه او کیندنې په زباد رسوي چې ماله کند د بودیزم د یوه مرکزي ښار بڼه درلودله. وروستی بودیست پاچا نهه سوه کاله مخکې راجا ګیرا نومید. د لیکوال د کتاب د خپریدلو له نیټې ۴۲ کاله وروسته په ۱۸۸۲ ز کال کې بریتانوي پوځیان ماله کنډ ته راغلل او غوښتل یې چترال ته لاړ شي او دغه ستراتیژیک ټکی تر خپل څار لاندې راولي. یوسفزیو مخالفت وکړ. جګړه پیل شوه، یوه نابرابره جګړه وه، خلکو زنګ وهلي توپک او زنګ وهلي توري درلودلې او د بریتانوي پوځ د توپچي ځواک پیاوړی وو او د ملې کنډ غاښی یې ونیو. وروسته انګریزي سیاست بریالی شو او د وخت په تیریدلو یې دلته لویې چونۍ جوړې کړې چې یوه چونۍ د بریدمن چرچیل په نامه جوړه شوه، همدا چرچیل وروسته د بریتانیې لومړی وزیر شو. [ژ]

[20] مروت : توخیان، نیازي هوتک، سوریان او لودیان د تره زامن دي. د مروتو یوه برخه په پکتیا او غزني او بله برخه یې د پښتونخوا د آي ډي خان د لکي مروت په ولسوالی کې دیره دي. وایي چې ددوی لومړنی ټاټوبی کټواز وو. په کټواز کې د مروتې په نامه یو غر دی او دوی خپل نوم له همدغه غره اخیستی او دا یې اوس قومي نوم دی. مروتیان د سپینو لوهانیانو په نامه هم پیژندل شوي دي. د لکي مروتې د نامه په هکله بیلابیل روایات دي. یو روایت وایي چې مروتیانو د وزیرو پر وړاندې جګړې ته چمتووالی ونیو او یو لک جنګیالي یې راټول کړل نو ځکه د لکي ستاین نوم د مختارې په توګه په دوی پورې تړل شوی، بل روایت وایي له اسلامه مخکې د مروتیانو په منځ کې د لکي رام یا لکو رام په نامه یو نامتو سوداګر وو او دلته یې په خپل نامه یو ښارګوټی جوړ کړ چې له هماغه مهاله وروسته دغه ښار د لکي مروتې په نامه پیژندل شوی دی. دریم روایت چې ښایي څقه روایت وایي او د پالي د ژبې له قاموسه پوهیږو چې د لکشمي نوم په لنډون لکي کیږي او لکشمي د ښکلا او نیکمرغی الهه ده. او مروت باید [امّرته / وټا یا Emarta / watta] وي او مانا یې اکسیر دی. چې د دواړو ستاین نومونو لکشمي امرته یا لکي امرته وټا بڼې د وخت په تیریدنې بدلون موندلی او لکي مروت ورڅخه جوړ شوی دی. [ژ]

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښاغلی الفنستن دغه قومونه له بر درانیو څخه له څو اړخونو بیل ګڼي، لکه په جسمي ځانګړتیاوو او ظاهر کې چې دوی ډیر هنډور او روښانه پوټکی لري او اوږده braces and bands [21] اغوندي. مروَتیان د ختیځو افغانانو په پرتلې، هندیانو ته دومره ډیر ورته والی نه لري. په لوهانیو کې بابړان Bauboors متمدن او په شمیر کې ډیر دي. ستوراني Stooreaunees شپانه کلیوال دي چې د لوهانیو یوه بله خپلوانه ډله ده.

د یادو شویو قومونو تر څنګ یو شمیر نور ګرځند کډوال قومونه هم دامان ته د ژمي پر مهال راځي او دلته دیره کیږي.

۳ – د سلیمان د غرونو په لړۍ کې دیره غرني قومونه

" زموړي Zamurrees [زیراني – ژ] او شیرواني Sheeraunees د هغو قومونو په پورتنۍ خوا کې پراته دي چې پورته مو یادونه وکړه او د تخت سلیمان د دنګې غرنۍ لړۍ په لمنو کې" په خوَرو وَرو کلیو کې ژوند کوي.

شیرواني په ټولیز ډول په منځنۍ کچې قد و قامت لري، ډنګر نه دي، مګر مزي او تکړه دي، زړور ، هڅاند او فعال دي. ورجستې څیرې، خړ رنګ سترګې، ورجستې هډَورې اننګې، بې باکې او غیرتي څیرې لري.

د پورتني قوم په شمالي خوا کې وزیري قوم د نښترو په ځنګلو کې دیره دی. ویل کیږي چې وزیر لوړ قدونه لري، هډور او غښتلي وګړي دي، ښکلي روښانه او ورجستې څیرې لري.

۴ – لویدیز افغانان – درانیان

مخکې مو وویل چې ختیځ افغانان په هغو سیمو کې استوګنه لري چې ډیرې برخې یې داسې دښتې او دَرې دي چې ناڅاپو دنګو غونډیو له یو بله بیلې کړي دي. د لویدیز افغانستان قومونه په ټولیز ډول په ډاګونو او پلنو ځمکو کې چې اکثراً شاړې او وچې ځمکې دي، دیره دي.

درانی یو بنسټیز او واکمن قوم دی. ددوی د استوګنې پراخوالی څلور سوه مایله اوږد او له یو سلو شلو تر یو سلو څلویښت مایلو پورې پسور لري. شمال ته یې د پاروپامیزان د غرونو هغه برخې راځي چې هزاره او ایماق په کې دیره دي، دا دواړه قومونه په څیرو کې له افغانانو [پښتنو] توپیر لري. که ټول انګلستان په پام کې ونیسئ بیا هم د درانیو د استوګنې سیمه وربانديې پراخه او ډیره ده. د درانیو په قوم کې ډیر واړه قومونه شته چې ټول یې د ځیرک او پنجپاوانو Punjpaws تر دوه وو څانګو لاندې راټولیږي. ولسي شمیر یې اته سوه زره اټکل شوی دی. کندهار او هرات د درانیو دوه بنسټیز ښارونه دي، یوازې په هرات کې سل زره درانیان ژوند کوي. په کندهار کې افغانان ژوند کوي[22]، نور یې په نورو ښارګوټو کې ډیره دي.

دراني غښتلي څیرې، ښایسته مخونه او نرمې پرتمینې ږیرې لري؛ د هغوی د مخونو بڼې له یو بله ډیره توپیر کوي ، یو شمیر یې ګردي غوښن مخونه لري. د ډیرو د مخونو د اننګو هډوکې ورجست دي.

الفنستن د درانیو په سویل کې د نورو قومونو نومونه اخلي لکه ترین او کاکړ

۵ – غیلجي

[21] braces and bands : زه ژباړونکی ددغو ګانو یا جامو په مانا پوه نه شوم. لیکوال په هماغه مهال کې ژوند کړی او اوس ډیرې شیان بدل شوي دي. ښاغلي لوستونکي دې په دې اړوند راسره مرسته وکړي. [ژ]
[22] د لیکوال دغه غونډله روښانه نه ده چې موخه یې څه ده. یا دا ده چې تاییې تیر وتنه شوې او یا غونډله ورځخه نیمګړې پاتې شوې ده [ژ]

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د غیلجیو[23] [[24]] ټاټوبی د درانیو په ختیځې خوا کې پروت دی چې د ترنـَک د سیند د بهیر لوړې جوړوي او بیا د پاروپامیزان د غرونو شمال لویدیزې خواته غځیږي، او ختیځ ته د سلیمان د غرونو لړۍ ته د جلال آباد پر لور د بر درانیو تر کرښو پورې ځان رسوي.

---

[23] Ghilji

24 د لیکوال د لیکنې د بشپړولو لپاره غواړم دلته د هنري والتر بیلیو Henry Walter Bellew زښت په زړه پورې کتاب څخه چې An inquiry into the ethnography of Afghanistan نومیږي یوه برخه راواخلم. ددغه کتاب لوستنه ټولو افغانانو ته اړینه بریښي. دا کتاب په ۱۸۸۷ م. ز کې بشپړ شوی دی. د کتاب له ۱۴۰ پاڼې وروسته داسې لولو :

هرودت وایي یولسمه ساتراپۍ په کسپیو وي Kaspioi ، پاسیکي Pausikai ، پانتي متوي Pantimathoi او داریتي Daritai ودانه ده. په یادو شویو قومونو کې لومړی قوم کسپیووي کیدای شي د کسیاپه بودا Kasyápa Budha د قوم نوم وي چې په سانسکریت کې د کشمیر نوم د همدغه قوم په نامه د کسیاپه مَر Kasyápamár یا کسیاپه گر Kasyápagára په نوم یاد شوی دی.... پاتې نور درې قومونه د یو بل په گاونډ کې ول – که په دې اړوند زما پیژندنه سمه وي – نو ویلای شم چې ددوی د استوگنې سیمه د پاروپامیزس له منځه په تیریدلو له هلمنده تر اندسه غځیدله؛ دغه غرنۍ لړۍ د باختریانا د سویلي کرښو په اوږدو کې اوس د زابلستان، غزني، کابلستان یا کامبوج (اوسنی کافرستان) او د داردستان Dardistan او د بلور کوهستان Kohistan of Bolor سیمې رانغاړي. دا ټوله سیمه د اوولسمې ساتراپۍ د شمالي کرښو او د دولسمې ساتراپۍ د سویلي کرښو تر منځ په ریوندي " مایلي" بڼې پرته ده چې شرحه به یې وروسته راشي. دا دریواړه قومونه له لویدیزه د ختیځ پر لور په دې بڼې پراته دي چې لومړی پانتي متوي، وروسته پاسیکي او بیا داریتي پراته دي.

تر هغه ځایه چې زه پوهیږم د افغانستان په هیڅ ځای کې د پانتي متوي د قوم د نامه د جړې او خاپ پلټنه ناشونې ده. کیدای شي دا نوم یونانیانو د " ټولو متیانو" لپاره په یو ځایي توگې کارولی وي چې د افغانانو د نسب پیژندنې پر بنسټ هماغسې چې مخکې مو ولیدل دا قوم ټول د " بي بي" متو MATO د بچیانو په نامه یادیږي، متو د شیخ بیټ ، بیټني SHEKH BET, Batani لور وه او ټول یې په گډه د متي Mati په نامه یادیږي چې لودي Ludi او غیلزي Ghilzi په کې د قوم مشران دي. خو له بلې خوا د هروت له پلوه یاد شوي پانتي متوي هغه قوم وي چې په کلاسیکو یوناني متونونو کې د پندا متي Pandumati یا پندو متي Pandu Mati په ډول ریکارد شوي دي او دا باید د فارسي متیانو Persian Mati یا د اتلسمې ساتراپۍ له متینوی Matienoi څخه د برعکس توپیري پیژندنې لپاره ویل شوي وي چې سترابو همدا وگړي په خپلې (Geog. xi. 8) کې د متیانوي Matianoi په نامه په دې توگې یاد کړي دي چې د پاراخواترُس Parakhoathros ترغرونو لاندې د مادانو په گاونډ کې پراته دي؛ او دا په پرشیا کې د البرج Alburj د لړۍ سویل کیږي. سترابو په بل ځای کې (ii. 5) سارومتیان Sauromatai د هغو قومونو په منځ کې یادوي چې د کسپین او یوکیسن د Euxine [تور – ژ] سمندرگیو تر منځ ان تر قفقاز پورې پراته دي. د متیانو بیلابیلې څانگې دي – سور متي Sur Mati د متیانو لمریز نژاد دی، لمریز نژاد په افغانستان کې ځکه په متیانو پورې اړه نه نیسي چې د افغانستان متیان د شیخ بیټ ، بیټني بچیان دي او دوی په افغانستان کې د سایتي شاهي کورنۍ یا د راجپوت د قمري نژاد استازي دي چې مخکې مو ورڅخه یادونه وکړه. په افغانستان کې د راجپوت نژاد د شیخ بیټ، د مشر بهټي Bhatti بچیان ټول د پاندو Pandu له نسله دي او پاندو د دیلي د پال Pal د سلطنتي کورنۍ له نسله دي چې لړۍ یې د تور Túár، تـَورَي Tawárí یا د راجپوت توري Tori قوم دی – چې د پیریو پیریو لپاره یې له راجپوت شاهانو سره په افغانستان کې د یولسمې زیږدیزې پیړۍ تر لومړیو پورې د غزني د سلطان محمود تر واکمني پورې واک چلولې محمود له دې نیټې وروسته ددوی واک درې وړې کړ.

د افغانستان متیان د غیلجي Ghilji او لودي Ludi په دوه سترو څانگو ویشل شوي دي. ویل شوي چې د غیجلیو نوم د ماوراالنهر د پورې غاړې د تورکانو د قوم د خیلیچي Khilichi یا " توره وهونکي" له نامه څخه راغلي دی. مگر د افغانستان قومي جوړښت ته په کتنې د غیلیجي نوم باید د هندوستان د راجپوت د کِرَچ Keruch او راجوَړه Rajwarra د قومونو یوه اړول شوي بڼه وي چې پخوا د اندس په اوږدو کې د گوراایش Goraish، گوری Gorich ، کورش Koresh، گیوریخ Gurich، کورَش Kurush او نورو په بڼو تلفظیدل؛ ددې تر څنگ چې د قومونو د څانگو د نومونو تړاو په یوه راجپوت یا هندي سرچینې پورې غوره بریښي له بلې خوا ټول قوم په پښتو خبرې کوي او د پښتونولۍ قانون پالي؛ او ددې پر ځای چې د دوی پر تورکي سرچینې ډډه ولگول شي، ددوی د جړې سرچینه باید د بیټني Batani د قومي مشر د لور له پښته وي چې د غور د سطنت ملکه وه او پلار یې بیټني په غزني کې ځمکې او

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د غیلجیو په سیمې کې کابل او د محمود د ستروا‌کی پرتمینه پلازمینه غزني راځي چې ناروین ځپلې پاتې شوني یې اوس خوَرې وَرې پرتې دي، دا هغه محمود دی چې د غزنوي سلطنتي کورنۍ بنسټ ایښودونکی او پر هندوستان باندې لومړنی برید کوونکی دی. غیلجي د ټول افغان نژاد په منځ کې جنګیالی ترینه او نامتو قومي ډله ده. د دوی د سیمې اقلیم په ټولیز ډول د انګلستان په پرتلې سوړ دی او په دوبي کې زښت تود دی.

په ټولیز ډول دا منل شوي چې غیلیزي په افغانستان کې د پښتنو دوهم لوی قوم دی، سره له دې چې غیلیزي ډیر یاغي او د درانیو په پرتلې لږ متمدن دي، مګر زښت زړور او زښت میلمه پال خلک دي." که یو غیلیزی تاسو ته

استوګنه درلودله. دا د همدې سکالو یو روایتي اړخ دی. مګر بل اړخ یې دا دی چې د بیتني او غیلجي نومونه کیدای شي د ایشیا ماینر Asia Minor د بیتیني Bithyni او Kiliki د قومونو نومونه وي چې د لیدیا پاچا کرویسوس CRŒSSUS ته تابع ول، خو کله چې کرویسوس د پرشیا د پاچا داریوش هیشتاسپ له لاسه ماتې خورې نو د داریوش هیشتاسپ په لاس د همدې سیمې دا او نور قومونه اړ کیږي چې دده د ستروا‌کي سویلي ولایتونو ته کډه وکړي او د بیتیني قوم ښایي هماغه قوم وي چې له دې پیښې وروسته پلیني د بَتیني Bateni په نامه ریکارډ کړی دی. خو له دغو انګیرنو سره سره دا باید ورغبرګه کړم چې موږ د غیلیجي قوم او نامه ته یې په هندي سرچینې کې نغښتی نوم ته ګورو او موږ ته هندي نوم ښکاري.

داسې ښکاري چې د افغانستان متیانو په ډیرو لرغونو مهالونو کې د ارغنداب په دَرې او د کندهار په شمال کې د هلمند د سیند په ختیځو غاړو کې ژوند کاوه او له همدغه ځایه یې خپله لمنه د غرنو د دنګو لړیو په تیریدا لومړی د سلیمان تر غرنۍ لړۍ او بیا د سپین غره د لویدیزو ډډو له لارې شمال ته د جلال آباد تر کرښو د کابلستان د کمبوجیه تر لمنې پورې غځولې وې. ددې لړۍ لویدیزه برخه پخوا د میتي د ځانګې بل لوی قوم لودیانو نیولې وه مګر لودیان ډیر پخوا هندوستان کډه شول او هلته یې استوګنه غوره کړه چې ډیرې یې په سرهند Sarhind کې دیره شول؛ حال دا چې د همدې لړۍ ختیځه برخه د کلات غیلزي له ګاونډه نیولې تر جلال آباد پورې لا تر اوسه د غیلزیو په ولکې کې ده.

د هرودت په دې ساتراپۍ کې له پانتي متوي وروسته پاسیکي Pausikai راځي. دا نوم کیدای شي د هندي [پشي – کې Pashi-ki] وي چې مانا یې " د پشي " یا " له پشي څخه" کیږي. دوی ظاهراً هماغه وګړي کیږي چې د پسیاني Pasiani په نامه یاد شوي دي (دا هندي نوم په فارسي کې د جمع په ډول د " پسیاني د خپلوانو" په توګې ویل شوی دی) چې سترابو د سکاتیانو Skythian د قوم یو تبر بللی چې یونانیان یې په باکتریانا کې را وپرځول. سترابو په " ,(Geog. xi. 8) کې د سکایتیانو په اړوند خبرې کوي او زیاتوي : " هغو قومونو چې یونان په باکتریانا کې راوپرځول اریوي Arioi، پسیانوي Pasianoi، توخاروي Tokharoi، سَکَراولي Sakarauloi, نومیدل چې د ساکي Sakai او سوګدیانوي Sogdianoi له مقابل لوري د ماوراالنهر له پورې غاړې را واوښتل چې دا سیمه هم د ساکي قوم نیولې وه."

اریوي Arioi باید د باکتریا (معاصر بلخ) په سویل لویدیز کې د لرغوني آریا Aria (معاصر هرات) د وګړو نوم وي چې د یونانیانو له راتګ مخکې له ډیرو پخوا وختونو دلته دیره ول. توخاروي باید د باکتری په شمال - ختیځ کې د توخارستان وګړي وي، دوی په منځنیو پیړیو کې د توخارستان نوم غوره کړه چې تر ده مخکې د توخاروي په نامه یادیدل، په توخارستان کې د باکتریانا سویلي برخې، له توخارستان سره د سوګدیا ګډه برخه او ټولې هغه غرنۍ برخې راتللې چې د آکسوس د اوبو د سر سیمه بلل کیږي. وروسته دا وګړي اندس ته کډه کوي او دلته د توغیاني تورک Toghiani Turk نوم غوره کوي؛ ددوی سم نوم کیدای شي په یو ګړي ډول توغ Togh شوی وي چې توغیاني او توخاري یې جمع نوم کیږي یو نوم یې په فارسي ژبې د توغیاني د جمع نامه ښکارندویي کوي او توخاري یې په بلوڅي ژبې کې د جمع نامه ښکارندویه ده؛ د بلوڅي قومونو د نومونو په جمع کولو کې د " اري *ari*" وروستي تصریف راځي حال دا چې په فارسي نومونو کې همدا تصریف د " اني ani " په ډول راځي. یو شمیر کسان په دې باور دي چې سکراولي د معاصر سریکولي Sarikoli د نامه اړول شوې بڼه ده؛ مګر د همدغه نامه سمه لوستنه د سکراولي پر ځای باید سکه توري Sakatauroi وي؛ که داسې وي نو موږ باید د باکتریا په ختیځ کې د کتور Kataur یا کیتور Kator پیاوړی ملت ولرو چې په کابل او کشمیر کې یې د کابل او کشمیر له سلطنتونو سره یو ځای هممهاله وړې وړې سلطنتي کورنۍ رامنځته کړې وي او په معاصر افغانستان کې ددغو کورنیو له استازو څخه کولای شو د چترال او کاشغر د شاه کتور یا شاهانو څخه یادونه وکړو. "

زه په پام کې لرم چې دا کتاب هم له سره وژباړم. له سره ځکه وایم چې زما په ګومان دا کتاب مخکې یا دَرې یا پښتو ته ژباړل شوی دی. [ژ]

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مخامخ کښيني نو درته به څرګنده شي چې دوی د افغانانو په منځ کې په جسامت کې غښتلي، په مخ ښکلي او ګلالي دي."

سويل خوا ته کاکړ پراته دي. ناصر وګړي د خپلې استوګنې کومه نوميرلې سيمه نه لري.

د افغانانو په دغې شرحې کې زما ځانګړې پاملرنه د هغوی د فزيکي ځانګړتياوو په اړوند راچورليدله او غوښتل مې د هغو وګړو انځور دلته د يوې بيلګې په توګه راوباسم چې د يوه قوم وګړي په داسې بيلابيلو سيمو کې سره تيت پراته دي چې سيمه ييز اقليمي شرايط يې له يو بله توپير لري، د استوګنې سيمې يې د سمندر له مخې بيلابيل لوړ والی لري، هوا يې توپير کوي چې ددوی په شان نور قومونه هم شته چې په ورته ځمکنې جوړښت کې ژوند کوي او سره له دې چې د يوه قوم وګړي دي مګر څيرې يې د همدغو اقليمي شرايطو له کبله له يو بله توپير مومي. هماغسې چې ومو ليدل د افغانانو په څيرو کې د ټولو رنګونو درجې ليدل کيږي چې د هندوانو له تور بخون رنګه نيولې د نورو ايندو – اروپايي ملتونو تر ژيړ بخون رنګ پورې رنګونه په خپلو څيرو کې رانغاړي. ددوی د تأريخ له مخې څرګنده ده چې د رنګونو دغه بيلابيل والی په هغو انګيرنو يا فرضيو کې نه شي شميرل کيږي چې اکثراً ددوی په شرحې کې په ګوماني ډول ويل شوي دي : زما موخه د نژادونو د ګډيدلو انګيرنه ده. دا هغه ښکارنده يا پديده ده چې موږ يې نن کټ مټ د هغو هندوانو په تأريخ کې وينو چې د هماليا د کرښو په لوړو غرنيو سيمو کې د سپيڅلو سيندونو سرچينو ته نيږدې ديره دي او سره له دې چې د هندوستان لومړني او اراستوګنې وګړي دي مګر څيرې يې روښانه رنګ او د سترګو رنګ يې شين دی. د الفنستن د خبرو له مخې چې مخامخ يې له وګړو او سيمې ليدنه کړې او خبرې يې په کومې انګيرنې او تيورۍ ولاړې نه دي څرګندېږي چې د افغانستان د ختيځ په هوارو ځمکو کې استوګن وګړي روښانه او اروپايانو ته ورته څيرې او ژيړ بخون رنګ ته نيږدې پوټکي لري حال دا چې اندس ته نيږدې د همدغه نژاد وګړي تور رنګ ته نيږدې د پوټکي رنګ لري او په دې توګه په ختيځ کې د پوټکي يا څيرو برلاسی رنګ تياره او لويديز کې روښانه دی. له بلې خوا افغان غرنۍ پرګنې په ټولو برخو کې روښانه رنګونه لري حال دا چې کافران [نورستانيان – ژ] چې له پښتنو لږ په لا پورته غرنيو سيمو کې ديره دي هماغسې چې و مو موندل په بشپړه توګه ژيړبخون [غنمرګی] رنګ لري.

جيمز کَولز پريچرډ ۱۸۴۴ ز کال
ژباړه : رحمت آريا ۲۰۱۲ ز کال

نور بيا

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ